شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل - (٩٥٤) سال هژدهم - شمارهٔ (٣٠) یکشنبه (١١) سرطان ١٣٧٤ هـ ش - (٤) صفرالمظفر ١٤١٥ هـ ق - (٢) جولای ١٩٩٥ م

قیمت (٢٠٠)افغاني - (٢ روپیه)

سرداروليي له مولوي صاحب محمدنبي «محمدنبي» اوپيرصاحب سيداحمدگيلاني سره وکتل

پېښور - دچنگاښ ١٠ :

دافغانستان دپخواني پاچازوم اوځانګړي استازي سرداروليي پرون په اسلام آبادکي دحرکت انقلاب اسلامي له مشرمولوي محمدنبي محمدي اودمحاذ ملي اسلامي له مشرپيرسيداحمدګيلاني سره وکتل اودهیواد درواني ستونزي په اړه ئي ورسره تفصيلي خبري وکړي .

خبرځاي ليکي پدي کتنه کي دواړوجهادي مشرانوپاکستان ته دسرداروليي له راتګ څخه خوښي څرګنده کړه اوده دااقدام ئي دافغانستان دستونزي په حل کي يومثبت ګام وباله .

دبل خبرله مخي ويل کيږي چي سرداروليي همدارنګ په اسلام آبادکي دجنبش ملي له استازي مولوي عبدالباقي ترکستاني اوددغه ګونددفترله رئيس جنرال پاينده محمدسره هم کتلي اوخبري ئي ورسره کړي دي .

هندی پوځيانو د ١٩٩٤ ع کال په اوږدوکی (٥٦٣) تنه زندانی کشميريان په شهادت رسولی

سری نګر - چنګاښ - ١٠

هندی پوځيانو د ١٩٩٤ ع کال په دوران کی دزندانی شويو کشميری مسلمانانو له جملی څخه (٥٦٣) تنه دتعذيب په جريان کی په شهادت رسولی دی.

د (کی بی ائی) دخبر په اساس دنوموری کال په دوران کی غاصبو پوځيانو په ټولټيز ډول د (١٤٢) تنوښځو عفتونه لوټ کړی دی.

دنوموری رپوټ انکشاف په سری نګر کی د يوه مېشته بشری حقوقو دتنظيم (المحاسب) اداريی د ١٩٩٤ ع کال په کلنی رپوټ کی کړی دی

درپوټ په تفصيل کی ليکل شوی د (٥٦٣) تنو وژل شويو کشميريانو له جملی د ١٠٤ تنو تعلق دحزب المجاهدين سره او ٣٦٢ تنه يی عام کشميری مسلمانان دی .

مجاهد وررور حکمتيارله يوه پاکستاني ژورنالست سره په مرکه کي

دهغوخلکو اکثريت چي د اسلام له پاره يي هجرت کړی دی، دحزب اسلامی ملاتړ کوی

• هنددقومانداناتو له تداوی څخه نيولی دالوتکو ترترميم پوری له کابل اداری سره مرسته کوی

(٢) مخ

روسی جنرال :

مسکو غواړي دافغانانو ترمنځ روغه جوړه وکړي ترڅو په افغانستان کي يوه سوله رامنځ ته شي

حامد کرزي ديوي مرکي په ترځ کي :

دظاهرشاه اود رباني ددولت ترمنځ ارتباط د هيواد دستونزي دحل په اړوند مثبت اقدام دی

دچنګاښ ١

ظاهرخان وسره روئي دغوکالو راهيسی دافغانستان دستونزی دحل په اړه دپاکستان له حکومت څخه هغه هيودئه دراتګ غوښتنه کړی وه .

داخبره دافغانستان دبهرنيوچارو دوزارت پخواني مرستيال حامد کرزي بي،بي، سي سره ديوي مرکي په ترځ کي وکړه ده دکابل داداري دعکس العمل په

باب وويل هرهغه اقدام چي په هيوادکي دملي وحدت اوتماميت ارضي باعث ګرځي په هغه کي به ټول افغانان متحداً

(٤)مخ

افغانها امادگی شانرا جهت مبارزه برضد مواد مخدر اعلام داشتند

باجور ٩ سرطان

جشن بزرگی به مناسبت روزجهانی مبارزه باموادمخدر روز پنجشنبه با اشتراک علما بزرگان وطلاب مکاتب در کمپ مهاجرین افغان درباجور ایجنسی

پاکستان تدویر یافته بود.

به گزارش روزنامه نیوز درین کنفرانس که به ابتکار بخش رفاه اجتماعی پروگرام مبارزه باموادمخدر سازمان ملل متحد دایر گردیده بود ، مسابقات گوناگون میان شاگردان مکاتب برگزار گردید ، وعلاوه بر آن علما وبزرگان سخنرانی های جالبی

پیرامون موضوع ایراد نموده ومردم رانسبت به زیان های ناشی از استعمال مواد مخدر هشدار دادند . وهمچنان همبستگی شان را باپروگرام جهانی مبارزه با مواد مخدر اعلام داشتند .

در اخیر مراسم تحایفی به شاگردانی که درین مراسم شرکت فعال ورزیده بودند ،توزیع گردید.

بخاطر دعوت از سردار عبدالولی ، اداره کابل برحکومت پاکستان احتجاج نمود

پاکستان می خواهد طالبان وظاهرشاه رابا هم نزدیک نماید

کابل - ٨ سرطان :

اداره کابل ازسفرسمی سرداروليي به پاکستان اعتراض نمود. امروز شارژدافیرحکومت پاکستان درکابل به وزارت خارجه اداره کابل فراخوانده شده و اعتراضیه اداره کابل تسلیم وی گردید. رادیوتهران ضمن ارائه این گزارش علاوه نموده که سرداروليي بامقامات پاکستانی دیدار نموده است.

رادیودرتبصره پیرامون این خبر میگوید ازنظر اداره کابل ورود ظاهرشاه به صحنه بحران راحل نمیکند بلکه مشکل صلح رابیشترمیسازد .

رادیوتهران میگوید پاکستان درصدد ست تاظاهرشاه وطالبان رابهم نزدیک کند.رادیو درحالیست که ورود ظاهرشاه رامجاهدین نشانه ای ازمداخلات صریح وآشکار انگلستان وممالک غربی میداند . [illegible] رادیو درتبصره خود ضافه میکند درعین حال تماس اداره کابل باطالبان بشکل مرموز جریان داشته ونتایج آن نامعلوم است.

هوتل بین المللی کابل (٣٠) ملیون افغانی خساره برداشته است

کابل - ٩ سرطان

بررسی های انجام شده نشان میدهدکه هوتل انترکانتیننتال کابل درجریان جنگ های سه سال اخیر بیش از ٣٠ ملیون افغانی خساره برداشته است .

براساس گزارش رسیده ازکابل رئیس

ص(٤)

تنظیم اتحاداسلامي ضمن صدور اعلامیه :

ملت درشرایط جدیدی قرار دارد وحربه های کهنه مؤثر نیست

پشاور ٨ سرطان

اتحاد اسلامی ضمن صدوراعلامیه ای سفرجنرال سرداروليي را به پاکستان وافغانستان یک دسیسه وتوطئه خواند .

درین اعلامیه آمده است که دسایس وتوطئه هائیکه تابحال علیه ملت افغان براه انداخته شده ، همه آن یکی پی دیگرخنثی گردیده وبهمین خاطر سفرسرداروليي حربه کهنه ای است که برضد ملت افغانستان استعمال می گردد

اعلامیه می افزاید ملت وکشور درشرایط جدیدی قرار دارد وحربه کهنه هیچ اثری دران ندارد.

دراعلامیه مذکور علاوه می کند که ملت دروشنی بصیرت اسلامی فرزندان اصیل ونماینده گان اجنبي راخوب تشخیص داده ونظربه شهامت خویش با جاسوسان بیگانه جداً حساسیت دارد

فضل حق مجاهد قوماندان قول اردوی ننگرهار

شایعات مختل شدن امنیت جلال اباد بی اساس است

صمیمیت وهمبستگی لازم بین اعضای شورای ننگرهاربرقرارمی باشد

جلال آباد - ١٠ سرطان :

دگرجنرال فضل حق مجاهد قوماندان قول اردوی نمبر (١) ننگرهار ایجاد اختلافات میان اعضای شورای جهادی ننگرهارادروغ وبی اساس دانست .

وی گفت همبستگی وتفاهم کامل بین اعضای شورای جهادی برقراربوده وهیچ نوع اختلاف وکشمکش میان آنان وجود ندارد .

فضل حق مجاهد افزود که ولایت ننگرهار افتخارصلح رادرکشوربخود کسب نموده وشورای جهادی تحت ریاست حاجی عبدالقدیر نه تنها امنیت رادرننگرهار تحکیم بخشیده بلکه بخاطر استقرارصلح وامنیت درکشور تلاش های صادقانه وخستگی ناپذیرنموده است

ص(٣)

بې نظیر بوټو او سردار ولي ديوه خبري کنفرانس په ترځ کي

زه پاکستان ته دافغانستان دهرمشر دراتګ هرکلی کوم

بې نظیر بوټو

که افغاني ګوندونه دستونزي دحل له پاره معقوله لارغوره کړي ډيرژر به سوله او امنيت تامين شي

سردار عبدالولي

اسلام آباد چنګاښ ١١

له اسلام آباد څخه په رارسيدلوراپوټونوکي ويل کيږي چي پرون دافغانستان دپخواني پاچازوم سردارعبدالولي اوورسره ملګري هيئت

(٣)مخ

ملابورجان یکی از قوماندانهای طالبان

حکومت کمونیست ها هنوز پا برجابوده وامضای داکتر نجیب معتبر می باشد

پشاور ٨ سرطان

ملابورجان که تا چندی قبل اززخمی شدن وحتی از مرگش همه جاصحبت می شد،یکبار دوباره درصحنه اخبار ووقایع وارد شده است . نامبرده درمصاحبه ای گفته است که اگر اداره کابل از ظلم بر شهریان کابل دست نکشد وازحکومت کنار نرود قوای طالبان ارگ را بابمب منفجر خواهد کرد.

بورجان میگوید اداره کابل خود را شکار وآلت دست حکومت هند ساخته است، همین اکنون دوصد نفر کماندو های آن به پشتیبانی اداره ربانی درکابل بسر میبرد وهند پانزده بال طیاره جنگی نیز به این اداره تسلیم نموده است . نامبرده گفت به شهریان کابل گفته ایم که هرچه زود تر به نقاط امن بروند تا درصورت حمله طالبان به آنها صدمه ای وارد نشود . وی میگوید روسیه وهند مستقیماً در اموزداخلی افغانستان مداخله میکند .

دروسيي دکابينی څو لوړ رتبه غړو له خپلودندو څخه استعفی کړی

مسکو - دسرطان ٩ مه :

دروسيي ددفاع اوکورنيو چارو وزيرانو ترپوه اوږده کشمکش وروسته له خپلو دندوڅخه استعفي کړي ده .

دنړيوالو خبري منابعو درپوټ په اساس دروسيي دولتي جرګي رئيس ويلي دي چي دغه دوو وزيرانو دروسيي دامنيت دشورا په غونډه کي خپلي استعفي ګاني وړاندي کړي، او کيداي شي جمهوررئيس يلتسن دجولاي په لسمه ددي استعفي ګانوپه هکله خپله پريکړه وکړي

دروسيي دغه دوه وزيران ددي هيوادپه جنوب کي دچيچن دمبارزينو ديوي ډلي له خوا دروسانوديرغمل نيولو ترپيښي وروسته ترکلک انتقاد لاندي راغلي وو اوپارلمان تهديدکړي وو چي که دغه وزيران له خپلودندوڅخه استعفي ونکړي

(٣)مخ

د رباني ځانګړی استاځی مسعود خليلی له نوازشريف سره وکتل

اسلام آباد - چنګاښ (١٠)

درباني ځانګړی استاځی مسعود خليلي تيره ورځ د پاکستان دمخالف ګوند د مشر محمد نوازشريف سره دغه هيواد د پارلمان ودانی په ځانګړي دفتر کي چي دمخالف ګوند دمشر له پاره مشخص شوی ده وکتل اودکابل د اداری دمشر رباني پيغام يی محمد نوازشريف ته ورساوه .

دجنګ ورځپاڼی په يوه خبر ويل کيږي چي مسعود خليلي پدی کتنه کی له نوازشريف سره دافغانستان درواني وضعي په باب خبری وکړی .

په سرابورو کی ديوه ماين دچاودېدو له امله يو تن وژل شوی دی

(٤)مخ

روزنامه نیوز انترنیشنل

باپروگرام احیای سلطنت درافغانستان مقابله خواهد شد

اسلام آباد - ٨ سرطان :

سفرسردارعبدالولي دامادمحمدظاهرشاه مخلوع افغانستان وپذیرایی وی ازجانب مقامات عالیرتبه پاکستانی ازجمله سردارآصف احمدعلي وزیرخارجه بیانگرتغیرعمده ای درپالیسی پاکستان درقبال خانواده سلطنتي افغانستان است .

روزنامه نیوزچاپ اسلام آباد بادرج این مطلب درسرمقاله شماره روزجمعه خود به ادامه میویسد : تا اکنون همه پیشنهادات مبتي بر بررسي مسایل بازگشت شاه مخلوع دریست قبلي اش درافغانستان بادرراس یک اداره بیطرف بامخالفت علني تعدادي ازگروهاي مقاومت مواجه مي شد.

روي همین منظورحتي تلاش هاي علني جریان داشت تایک گروه بایک ائتلاف اداره کشوررابدست گیرد اما موفقیتي قابل ملاحظه اي درین زمینه بدست نیامد . ظهورپروفیسور رباني درصحنه قدرت وبقاي آن درجنگهاي چندین جانبه براي بسیاري ناخوشایندبوده، به عنوان عامل ادامه ناآرامي هادرکشور که اغتشاشات قومي درگیري هاي قبیله اي قوي ونژادي رابارآورده است .

رباني ازتوانمندي اداره کشور وسوق آن بسوي ثبات وصلح عاجزاست . علاوه به آن اسلام آباد هم باپالیسي اي که بادرنظرداشت وضع جاري، رباني درپیش گرفته خورسند نبوده ودرآینده هم به نفع ثبات منطقه نیست .

ص(٤)

سرمقاله

ترڅوبه دپيل په غوږکی ويده ياست

اولس کاله مخکي دکمونست انقلاب اوروسي تيري په خلاف دافغانستان دمسلمان ولس جهاداوقرباني دآزاد،مستقل افغانستان اوسوچه اسلامي حکومت دقيام په خاطرو، خودري کاله مخکي کله چي دافغانستان مجاهدولس په افغانستان کي کمونست رژيم نسکورکړنوددي پرځاي چي خپل آرمان بي ترسره شي په پرله پسي توګه ئه بواځي له نادرومشکلاتو، کړاوونو، قتلونو، لوږي اوتندي سره مخامخ شول بلکي اوس دخوږافغانستان ملي استحکام اوبووالي هم په خطره کي غورځيدلي وينې همداوجه ده چي اسلام، آزادي اوهيوادسره مينه لرونکي افغانان خفه پريشان اومايوسه ښکاري اوهريوهمدايوښتنه کوي چي دوي ته به ترکومه داسزاورکولي شي! آباداسي ورځ به هم راورسيږي چي داقتدار وږي لبوان به له خپلي جاه طلبي اوخودغرضي نه لاس په سراودافغانستان دمسلمان ولس څوارلس کلن جهاداوقرباني ته متوجه شي. دايواځي لوي الله ته معلومه ده چي دغه دقدرت وږي لبوان به دقتل اوظلم نه کله ستړي شي اوکله به ديونيم ميلونوشهيدانودارمانونودتحقق له پاره له خپل نارواعمل نه لاس واخلي. ترکومه حده پوري چي ددوي له ظاهري فعل اوقول نه څرګنديږي داسي څه نښي اوښتياني نه ښکاري چي ګنې دوي به دخپل دغه هتلري اوفاشستي عمل نه دلاس په سرکيدوله پاره چمتووي. هروځ نوي چال اونوي تکتيک وړاندي کوي نه بين الاقوامي اصول مراعات کوي اونه داسلام غوښتني په نظرکي نيسي، بلکي ددوي اصلي هدف دادي چي په هره طريقه وي خامخادي په اقتدارکي پاتي شي اوخپل مخالفين وځکوي، هغوي دي مقصدته درسيدوله پاره هغه څه ته لاسونه اچولي چي افغانانوتصورهم نه شوکولي، روس اوهندوستان غوندي اسلام دښمنو هيوادونوته چي پوره څوارلس کاله ئي دافغانستان دتباهي اوخپل تسلط لاندي دراوستوله پاره له هرډول منهواوهلوځلونه دريغ ندي کړي دسوال اوغلامي لاسونه اوږد کړي اويوځلي بيا افغانستان دهغوي په لمنه کي اچول غواړي ، که په وخت ددوي ددغه عمل دمخنيوي له پاره موثراقدام اوتدبيرونه کړي شي نوخداناخواسته دپنځه لسولکوشهيدانو په وينوسورافغانستان به دلادينوقوتونودخواهش پوره کيدومرکزوګرځي. داچي داقتدارږوږي لبوان دافغانستان دمسلمان اومجاهدولس دغوښتنواودپنځه لسولکوشهيدانودارمانونوپه خلاف ګامونه پورته کوي داسلام اوهيواد دګټي په خلاف عملي سازشونه کوي نوآياپدي صورت کي ټولو هغواسلام خوښونکواوهيوادسره همدردي لرونکوافغانانواوجهادي قوتونوته خاموش کيښناستل جائزدي؟ آيا اسلام اوهيوادته مسلسل تاوان رسيدوپه حالت کي بياهم په خاصه توګه جهادي قوتونوته روادي چي په پوصف کي دراغونديدو اويودريځ له خپلولونه ډډه وکړي ؟ پدي کي هيڅ شک نشته چي دجهادي مشرانويودريځ نشتوالي اويه پوصف کي نه ودريدل دکابل جاه طلبوحکمرانانودعمراوږديدو اوداسلام اوهيوادپه خلاف دسازشونودپرمخ بيولوله پاره لوي فرصت په برخه کوي، لدي حقيقت نه هم څوک سترګي نشي پټولي چي دکابل غيرقانوني واکداران تراوسه پوري دجهاد مشرانوسست او خاموش

(٤)مخ

سخن روز

پرهیواد دتحمیلی واکمنی دغیر مسئولانه تګلاری منفی اغیزه

ش - م

زموږدهیواد روانه وضعه هغه جره مشوره ده چی په خلاصون یی نه خپل وهیږی اونه پردی ،چاپکی سرونه ، مالونه اواولادونه له لاسه ورکړل اوچا ریته په ژوندخپلی پښی ایستی،چادخدای (ج) دحکم دتعمیل په خاطردپی نوری اوبی وطنی لاره ونیوله اوڅوك دخپل سرومال اواولاد دخوندی پاته پدوله پاره ورڅخه په تیښته وتښتیدل ،څینودالله جل جلاله په لاره کی ماد ومال ته شاکړه اوڅینو بیادداسی مهال راتګ دځان ومال دلاس ته راوړو په پاره فرصت وګڼه څوخپردادزمانی حاکمیت اوبرلاسی دی چی بوچاته بوڅه وبل چاته بل څه ورکوی، چاته دملنګی کنداوکچکول پغاړه کړی اوچاته له نازونعمت ډك دپادشاهی غول په سرکړی.

هو!

داسی کول اوفیصلی دهغه ذات (ج) په واك کی دی چی دعزت اوذلت ورکولو مطلق مالك دی خوددی حدیث شریف په اساس چی (انماالاعمال بالنیات) به هرچاته مجازات او مکافات ورکول کیږی .

زموږداسلامی پاڅون اوحقی مبارزی (جهاد) په لومړیوکی هم ځینی داسی کورنی او بهرنی عناصر ووچی له جهادسره په ملاتړاوطرفداری کی دتزلزل لاره خپله کړی وه خویه داسی کسانودهغه چاکانه شری وه چی بوی خواته یی پاڼ اوبل خواته یی پراڼګ ونودځان ساتنی اوخوندی پاته کیدوله امله مجبوراً په بوی لوری ته دتښتی ترپیول اوکله ناکله دګواښ کرلو اوبیشرووهلوڅه نیښی نښانی هم ځرګندولی. داچی الله جل جلاله دمجاهدوافغانانو په کوم کچ دښکاره فتحی ,معجزه وښودله، ټولوته دلږیه حیږروښانه ده ، که دخدای تعالی داځرګنده مرسته اوکومك نه وای نوهغه دچاخبره (چیرته یوسف چیرته دمصربازارونه) چیری داتش لاسی اوبیوزلی افغانان، چیری بیاپه خپلواك افغانستان کی خپلواکه افغانان اوچیری دننی عصرپه هرډول جنګی سازوسامان سمبال روسان اودوارسادپکت دانمیوالانوماتی، خوددی ناانهوله ځواك اوجنګ انجام دافغانانوداسلامی شهامت دتوری محل دنړی پرګوټ ګوټ وځلاوه، دوستان اودښمنان دواړه ګوته پرغابښ حیران پاته شول چی زموږپرمجاهدانه سوبی دهیښتانوخواوی بخی اوددښمنانودحسدله اوره ډك زړونوڅخه دلمبوتاوپورته شو .

که زموږوپارلی اوله سویودك تاریخ ته وکتل شی نودکمونیزم سره دغره اودستری فتحی په درشل کی دربدل زموږ دملت له پاره څه کومه نوی پیښه او خبره نه وه ځکه چی تردی دمخه هم دتاریخ په اوږدوکی دروسی امپراتوری په څیرنوری امپراتوری هم دلته دزوال سره مخامخ شوی خودروسانو سره مخامخ جګړه اودهغوی ماتی له دی امله تاریخی اوداهمیت وړده چی دپرشانه تلونکی ځواك په شاتګ داسی وشرچی هیڅایی اټکل هم نه کاوه .

خودتأسف ځای دادی چی دمؤمنو افغانانو دننی عصردغه بی ساری فتحه اوهومره بیکچه قربانی دهوس په تویان داسی لاهوشوی چی داقتداروږوظالمانوپه زړونوکی دبوی ډری په اندازه پری نه زړه وسواونه یی پری رحم وکړ، بلکی دتوهین اونفرت په نظریی ورته کتل کیږی . که له یوی خواداقتداردتښی له امله دجهاد اومجاهدملت پروقاراواقتدارپښراپیسودل کیږی نوله بلی خواورسره جوخت دهیوادپرافق دبولږنوبو ماتمونو خره راخوریږی اوهغه داچی که دپرونی ازادی دترلاسه کولو اودکمونیزم دګرواګیانوله راپرڅیدو وروسته دهیواد دبرخلیك مدعیان په شمارجهادی ځواکونه حقداراومستحق ګڼل کیدل خودبوی دلی دانحصاری اوسکتاریستی واکمنی اوپرقدرت باندی دمنګولو ښخولو له امله ورځ په ورځ دنوبو ځواکونو اوځیرو رامنځته کیدل اومطرح کیدل دی حدته ورسیدل چی دجهاداومجاهد اصل اواساس پکی تربښو لاندی اوڼن ورته دکرکی او نفرت په نظرکتل کیږی ، په خلکوکی یوه مروجه اصطلاح ده چی (توری دی لالاوهی ډوډی یه عبدالله وهی) رښتیاچی نن زموږدمجاهدملت سره دپردی ترشا دهمدی ډول چال چلندلوبه روانه ده ، اودادجهاد دډښمنانودهغی دسیسی بوه کړی ده چی دمجاهدملت له پریاوو، وروسته دجهاد اومجاهدملت دبدنامی له پاره په ډیردقت اوشیطانی زیرکتیا سره پرانیستلی شوی ده .

هو!

موږدهری هغی هڅی اوپروسی چی زموږدهیواد دستونزی دهواری له پاره ګټوره ثابتیدای شی، زموږتیری سربښدتنی اووقاریکی نه هدرکیږی ، زموږیه حقه مبارزه اوحق پاڅون دملامتیا اوبطلان کرښه نه راکښل کیږی موږبی ملاتړاومنلوته یی له کوم ځنډه تیاریو، خودیته به هیڅکله هم غاړه نږی نکړو چی زموږدمقدس سنګرسپکاوی اوبرخلیك مو هغه چاته وسپارل شی چی نه یی دخاوری اونه یی دملت په تیراوږده ناورین له خولی څخه (آه) هم نه وی پورته شوی، خوکه بیا هم دداسی کیدومهلت اوفرصت دنورچابرخلیك اومقدرکیږی، زموږدشهیدملت دوراثت وثیقه دنوروله پاره اتمام حجت اودوباړونو شمله کیږی ، مسئولیت یی دهغه چاپرغاړه دی چی بوازی اوبوازی دبوی منطقوی ،انحصاری واکمنی په خاطر دملت ټول اقداراونوامیس دوکولو ته یی پیڅی رابهوهلی دی .

خوداچی روسانوهم ونشوای کرای چی په زور، زموږ پرملت دخپلولاسپوڅوواکمنی ومنی اوبابی پښی ټینګی کړی، نودکابل ائتلافی اداره دی هم وپوهیږی چی دملتونو په زوراپلول له چړو سره لوبی کول دی که

دهغوخلکواکثریت چی داسلام له پاره یی هجرت کړی دی دحزب اسلامی ملاتړ کوی

یادونه :

څه موده وړاندی ښاغلی واکتر مفکراحمد چی دپاکستان مشهور اومسلمان ژورنالیست دی ، دحزب اسلامی افغانستان له امیر وررور حکمتیارسره د روانو حالاتو په باب مرکه کړی وه .چی د نړای وقت ورځپانی هغه په خپله اونیزه ضمیمه (ندای ملت) کی دتیری جمعی (۳۰) جولای په ګڼه کی خپره کړی ده ، وادی موږ دهغی څخه یو لړ ضروری پوښتنی اوځوابونه خپلو درنو لوستونکوته ژباړلی چی درته وړاندی کوو یی .

اداره .

پ : تاسی سرویی ته تر راتللو وروسته ویلی وو چی که طالبانو په کابل کی ماتی وخوړه نو تر هغی وروسته به په کابل کی یو هندی پلوه رژیم ټینګ شی ، تاسی دخپلی دغه وینا څه وضاحت کولای شی ؟

ځ : زه فکر کوم چی داخبره یا لکل واضح ده ، وروستنیو حالاتو داثابته کړه چی دهند حکومت دکابل له اداری سره یی دریغه مرستی کوی ، دکابل اداری دقوماندانانو د تداوی څخه نیولی ، دهغوی دالوتکو ترمیمه پوری هند ورسره مرسته کوی . هغوی خپل قوماندانان دتداوی لپاره په منظمه توګه هند ته استوی، پوځی مشاورین او ماهرین کابل ته راځی ، اودهغوی الوتکی ترمیم کړی . همدا رنګه دهند حکومت دکابل اداری ته بانك نوټونه چاپوی . ځکه روسی کابل اداری ته کم مقدار بانك نوټونه رالیږل ، ځکه نو داکمبود اوس دډیلی حکومت پوره کوی .

بل لوری ته د " را " او"خاد" ترمینځ تودی اړیکی شته ، و ... ځکه نوموړ دا وایو چی یوی خواته دامشهوده ده چی دطالبانو له غورځنګ سره دهیڅو پاکستانی خلقو مرسته اوهمکاری ده ، او

بل لوری ته دکابل له اداری سره دډیلی حکومت مرسته کوی ، او که طالبان ماتی خوری نو دهغی واضح معنی داده چی کابل دډیلی حکومت یوه اډه جوړیږی موږ داخبره کړی ده او کوو یی .

پ : وروسته له هغی چی تاسی له چهار اسیاب نه سرویی ته منتقل شوی د جنرال دوستم دریځ څه ډول دی آیا هغه د پخوا په څیر له حزب اسلامی سره " هم آهنګی " ته دوام ورکوی .

ځ : جنرال دوستم پدی موده کی تر شدید فشار لاندی دی ترڅو له حزب خو ددی ټول فشار سره سره جنرال دوستم تر اوسه هم له حزب اسلامی سره ولاړده ، اودهغه حلیف ده .

پ : آیا دافغانستان دخلکو اکثریت دحزب اسلامی دسیاست ملاتړ کوی ؟ که داسی ده نو بیا ولی پدی اوږده موده کی حزب اسلامی پر کابل باندی کنترول تر لاسه نشو کړای ؟

ځ : لومړی خو زه داخبره واضح کول غواړم چی په یوه یا ډیرو ولایتونو باندی کنترول درلودل ددی معنی نلری چی ملت له واکمن قوت سره دی . ددی ولایتونو مرکزونه دری کاله وړاندی دنجیب له رژیم سره وو خو ددی معنی هیڅ کله دانده چی ددی ولایتونو خلك نجیب له رژیم سره وو.

> په یوه یا څو ولایتونو کنترول درلودل دملت دملاتړمعنی نشی درلودای

اسلامی څخه بیل او له مسعود سره یو ځای شی . او ددی لپاره پرهغه باندی دڅو لوریو نه کار روان دی .

یوی خواته هند دا هڅی کوی ، بل لوری ته روسیه هم په همدی ډول هلو ځلو بوخته ده .

دهند حکومت خپل یو هیئات لدی پیغام سره مزارشریف ته لیږلی چی جنرال دوستم باید له کابل اداری اومسعود سره مرسته وکړی همدارنګه دروسانو دوه هیئاتونه جنرال دوستم ته ورغلی ، او پدی ترڅ کی د روسیی یوه پوځی جنرال اعلان وکړ چی مسکو غواړی دافغانانو ترمینځ روغه جوړه وکړی ترڅو په افغانستان کی یوه سوله رامینځ ته شی .

بلکه دا قبضه اوکنترول دوسلی په زور ټینګ شوی وو. داسی نده چی انتخابات شوی وی او ولس هغوی ته رایه ورکړی وی.

پدی (۲۷) کلونو کی پداسی حال کی چی له موږ سره نه کوم ولایت و او نه کوم مبارز، یامهاجر وو یا مو د زندان دتورو دیوالونو شاته داسری شپی ورځی سباکولی ، یا خو پر غرونو کی وو ، مګر دافغانستان په ټولو پیښوکی اساسی اومهم رول زموږ و .

ملت له موږ سره وو او زموږ له خوا یی د جهاد دعوت ته لبیك ووایه . پدی موده کی دحزب اسلامی سره د ارتباط په جرم په زرګونو کسان کلونه کلونه په

زندانونو کی پرانه وو ، لرترلره زموږ دوه نیم سوه زره افراد چی دحزب اسلامی دغړیتوب کارتو نه ورسره وو، یا په زندان کی په اعدام محکوم شول یا دجهاد په سنګرونو کی دشهادت اعلی درجی ته ورسیدل .

دمهاجرینو څخه له ۷۵ څخه تر ۸۰ فیصده خلك دحزب اسلامی سره وو . پدی کی هیڅ شك نشته چی دهغه خلکو څخه چی داسلام لپاره یی دالله (ج) په لارکی هجرت کړی وو داکثریت ارتباط له حزب اسلامی سره دی .

پ : آیا د نړی نور اسلامی تحریکونه دحزب اسلامی اخلاقی مرسته او ملاتړ کوی ؟

ځ : اسلامی تحریکونه له لومړی سرڅخه تراوسه دافغانستان له جهاد څخه ملاتړ کوی . داخوان المسلمون په هکله په تأسف سره باید ووایم چی دا په څو ولو ویشل شوی له هغو څخه یوه دله دجهاد څخه ملاتړکوی او بله یی نه کوی .

دهغوی دوهمی دلی نه یوازی له موږ سره مرسته نده کړی بلکه ناوړه تبلیغات هم کوی . خو زه نه پوهیږم چی داکار څو تنویج انفرادی توګه کړی که دا د دوی تنظیمی پالیسی ده . خو دهغوی خوتنو مهمو اومؤثرو اشخاصو په ټوله اسلامی نړی کی زموږ پر خلاف تبلیغات کړی .

پ : په افغانستان کی داسلامی نظام ترټینګښت وروسته ستاسی سره داسی قانون پوهان شته چی د ژوند په هره برخه کی دشرعی قوانینو مطابق نظام جوړکړی

ځ : زه ګومان کوم چی پدی هکله ــ

مرنز ډیرمحتاج نه شو . موږ هم دافغانستان او هم داسلامی نړی په مسلحه داسی پوهان لرو .

پ : دکشمیری مجاهدینو دازادی دتحریك پدی مرحله کی تاسی هغوی ته څه مشوره او پیغام ورکول غواړی . او ایا داسی ګڼله ده چی افغانی تنظیمونه له خپلو پولو اختلافاتو سره سره دکشمیر

یاد نړی دنورو سیمو دمظلومو مسلمانانو دعملی مرستی لپاره یوه مشترکه لاره غوره کړی ؟

ځ : ستاسی د پوښتنی ددوهمی برخی په هکله زما ځواب منفی دی ، زه ددی امکانات ډیر کم وینم چی دافغانستان ټول ګوندونه دی دخپلواختلافاتو سره سره له کشمیری مجاهدینو سره مرسته وکړی !

په پاکستان کی دننه د " را" فعالیتونه دوام لری ، په داسی حال کی چی دلته په کابل کی دپاکستانیانو نیونه ،زندان ته دهغوی لیږدونه او پر هغوی باندی تشدد ،پول دهند دفشار له امله ترسره کیږی .

د پاکستان پرخلاف منفی تبلیغات هم دهند دنفوذله امله کیږی . او هغه څه خاص عوامل هم لری له ریاسی سره چی کوم پخوانی کمونیستان ملګری دی ، دهغوی یوشمیر په هند کی دی چی دهغوی درابطی کار ورکوی

نو له همدی امله زه فکر کوم ددی امکان نشته چی ټولی به ګډه دکشمیری مجاهدینو په هکله یوه ګډه کړلاره غوره کړی . کشمیری مجاهدینو ته زما پیغام دادی چی باید د آزادی دګټلو په ... کی ثابت قدمه اوسیږی .

ژباړن: احمد ضیاء " رحیمزی "

بوسنی درمجمر آتش می سوزد

احمد فرید " ثمین "

کشور بوسنیا با درشتن موقعیت مهم جغرافیایی ، اهمیت سوق الجیشی ،جبال مرتفع و هامون های پهن توجه بیشتر استعمار گران غرب را به خویش مبذول داشته است :

مسلمانان بوسنیا از سه سال واندی به این طرف تحت تاخت وتاز درندگان صرب قرار داشته وهر روزه به تعداد ده ها نفر آنها کشته ویامجروح وصدها نفر دیگرمجبور به ترك کشور خویش میگردند .

آنها در فلاکت ونکبت کامل بسرمیبرند ، افلاس وګرسنگی برآنها بیداد میکند اما قهرمانان نامنهاد بین المللی مدافع حقوق بشر که داد ازتکریم به حقوق بشر ودموکراسی می زنند درین مورد تجاهل عارفانه نموده واشك تمساح میریزند.

سازمان ملل به اصطلاح علم بردار صلح وصفا برعلاوه اینکه تاکنون نتوانسته ویا نخواسته دست ظلم وجوردرندگان صرب را ازمسلمانان کوتاه نماید ، با آواره گان ومجروحین بوسنیا نیز هم هیچگونه امداد و معاونت قابل ملاحظه ننموده است .

بیمارستانهای شهر سرایوو علاوه براینکه با فقدان شدید ادویه جهت معالجه مجروحین مواجه بوده . در انظار آرتش به اصطلاح حافظ صلح بین المللی هدف تیر اندازی صرب های وحشی قرار میگیرند اما حامیان کاذب حقوق بشر درین مورد مسامحه نموده واین عملکرد وحشیانه درندگان صربی راتقبیح نمی کنند.

طراحان یهودی وصهیونستی که بامسلمانان عداوت وخصومت عمیق دارند برای اضمحلال مسلمانان دسایس وتوطیه ها را طوری طرح و اجرا مینمایند که اهداف شان بر آورده شود و به یاران شان آسیب نرسد . اما در عمل دربوسنیا روند استبداد بیداد گران تروریست صرب به اندازه طغیان نموده که حتی طراحان آن نیزدرآتشی که افروخته اند ، مسوزند و یا به عباره دیگر استعمار گران غرب که از جمله حامیان سرسخت صربها محسوب میشوند اکنون توسط درندگان تربیه شده خویش توهین وتحقیر میگردند . صربهای تروریست به تعداد ۳۸۷ نفر آرتش حافظ صلح سازمان ملل راګروگان گرفتند واز آنها منحیث اسیر انسانی استفاده کردند ، یك فروند هوا پیمای (اف ۱٦) ایالات متحده امریکا را هدف تیراندازی قرار داده سرنګون کردند .

بعد از اضمحلال وفروپاشی اتحاد شوروی سابق و پیمان نظامی وارسا جمیع نیروهای استعماری به این امر متفق شده اند که بعدازاین یگانه دشمن مشترك آنها اسلام است بنابرین سران سازمان ملل و پیمان ناتو وسایرکشور های استعماری با

نیروهایی که علیه مسلمانان میرزمند و سرزمین آنها را غصب میکنند معاونت سیاسی - مالی وحتی نظامی مینمایند. و اعمال وحشیانه آنها را توجیه ومخالفان آنها را تروریست میخوانند.

اسف انگیزاست که جمیع نیروهای کفری وشیطانی باصربها جهت قلع وقمع مسلمانان کمك ومعاونت مینمایند اما حکام (٥١)کشوراسلامی نه تنها اینکه بابرادران مسلمان خویش که تحت تیغ درندگان خون آشام صرب قرار دارند معاونت نمینمایند بلکه دربرابر اعمال تروریستی صربها واکنش جزئی هم نشان نمی دهند . به همین ملحوظ گروپ تماس که مشتمل بر نمایندگان امریکا ، روسیه ، فرانسه ، انګلستان وجرمنی میباشد با وقاحت کامل درپنج جولای ١٩٩٤ عیسوی فیصله تجزیه کشوراسلامی بوسنیا را صادر نمودند که به اساس آن پنجاویك درصد خاك این جمهوری به مسلمانان وکروات ها وچهل ونه درصد آن به صربها تعلق میگرفت اماصربها که خیال سیادت بر سراسر بوسنیا رادارند این اقتراح اربابان خود را مسترد نمودند

نیروهای کفری، جهت استیصال مسلمانان تحریم فروش اسلحه بربوسنیا را تحمیل کردند درحالیکه برای صربها اسلحه میفروشند .

اما با آن هم صربهای جبون و بزدل دربرد بامجاهدین سلحشور بوسنی به هزیمت فضیحت بارمواجه اند.

تلویزیون بی بی سی ګزارش دادکه نبردشدید میان صربها ومجاهدان بوسنیاادامه دارد، صربها به هزیمت فاحش مواجه بوده وقریب است که دولت بوسنیا حلقه محاصره سه ساله شهر سرایوو رابشکنانند ولی ازطرف دیگرصربها درمقابل هزیمت خویش شهرمذکور راراکت باران نموده که منجر به کشته شدن نه نفر وجراحت برداشتن سی نفرگردیده واکثریت قربانیانرااطفال معصوم تشکیل میدهند . شبکه مذکور فاش نمود که اجساد شهر وندان بی گناه سرایو درروی خیابانها انباشته شده وخیابانهای این شهر به خون مسلمانان گلگون است

نگارنده را عقیده بر آن است که اگر خشونت وبربریت دربوسنیا به همین منوال ادامه یابد دول غربی که مسئول اشتعال آتش نبرد درین خطه اند درآتشی که برای

نابودی مسلمانان افروخته اند خود ایشان درآن خواهند سوخت ویا به عباره دیگر استمرار معرکه دربوسنیا موجب پراگنده گی در پیمان ناتو و اتحادیه اروپا خواهد گردید اکنون طراحان یهودی وصهیونستی درآزمایش وشوری قراردارند .

الف : اگربا صربها که ازجمله برده گان کاخ کرملین محسوب میگردند معاونت مالی ونظامی نمایند در آنصورت آنها دربرد پیروز خواهند شد در حالیکه امریکا هرگز نمی خواهد که درکدام نقطه گیتی دشمن سابق اوسیادت نماید.

ب : اگربا صربهای جبون وبزدل معاونت مالی ونظامی ننمایند آنها دربرد با ارتش دولتی بوسنی باشکست مواجه می شوند درآنصورت حکومت اسلامی دراروپا پای می گیرد که این امرخلاف میل استعمارگرون است .

اکنون برمسلمانان کشورها وجنبش های اسلامی است که با برادران مظلوم وستمدیده بوسنیا یی خویش معاونت نموده وآنها را از گزند استعمار گران نجات دهند ونگذارند که آنها درمجمر استعمارپسوزند.

اگر مسلمانان گیتی امروز با برادران مظلوم بوسنیا یی خویش که زیر تیغ در ندگان خون آشام صرب قرار دارند معاونت ومساعدت ننمایند . فردا چنین روز برآنها هم آمدنی است ودرآن روز باشنون وفغان منتظر یاری دیگران باشند.

نوی ساینس دقرآن اوحدیث په رڼاکی

ژباړن مشرقی ارمه برخه

د انسان نفسانی غوښتنی په پام کی ونیسی هغه د هر وړاندی تګ پدی امید کوی چی هر دول سوکالی ورته حاصله شی ، څه چی وغواړی حاصل یی کړی مګر دا مراد یی ندی پوره شوی

حال دا چی په زرګونو ډول ډول دسهولتونو ماشینونه یی ایجاد کړیدی او د پیړیو راهیسی ددی مقصد د پاره په هڅو کی دی الله (ج) هم ددغه څیزنود پوره کیدو وعده نده کړی بلکی دمحنت په لوری یی ترغیب ورکړیدی خو الله (ج) په جنت کی دداسی ژوند وعده کړیده دوی چی دکوم څیز په لټه کی دی هغه به په جنت کی ورته حاصل شی . هلته که چیری په زړه کی د میوی هیله وکړی دونی ځانګی به راټیټی او میوه به په خوله کی ورته پریوزی .

د جنت د اوږدوالی او سور علم الله (ج) ته حاصل دی زموږ ځمکه په کائناتو کی دیوکوچنی غونډوسکی په شان ده قرآن حکیم د العمران دسورت په ۱۳۳ ایت کی ارشاد دی :

« دجنت لوری (اطراف) چی پراخی یی داسمان اوځمکی په شان ده »

او دا ورد د حضرت محمد (ص) به کله چی دتهجد لپاره ویښ شو نود آسمان په لوری به یی کتل هغه مبارك معمول و: ... ای شکه دځمکی او آسمانونو پیدایښت ... به ... یو شی راتلل پدی کی نښی دی

دعقل خاوندانو دپاره چی یاد وی الله (ج) په ولاړی اوناستی او په اړخونو پراته اودځمکی او آسمانونو په پیدایښت کی فکرکوی (وایی) ای خدایه تا دا ټول عالم بی فایدی ندی پیدا کړی تا سره پاکی ده نو موږه د دوزخ داوره وساته » العمران (۹۰) - (۹۱)

نبی (ص) داحدیث شریف هم د ذکر وړ دی :" تباهی اوبربادی دهغه چا لپاره ده، چی دغه آیتونه د دواړو زامو په منځ کی ژوی مګر په هغی غور او فکر نکوی »

عام او عالی تعلیم یافته خلك حیرانتیا ښکاره کوی چی دمرګ نه وروسته ژوند به څه ډول اوڅنګه رامنځته کیږی . قرآن حکیم ځای په ځای دا خبره تکرار کړیده یو څو مثالونو ته به پاملرنه وکړی : دانبیاء د سورت په (۱۰٤) آیت کی دحکیم خدای (ج) وعده ده .

« ... کله چی موږ اول وار د پیداکولو ابتداء وکړه په همدی ډول به دوباره پیداکوو دا وعده زموږ په ذمه ده او موږ به تحقیق سره موږ ددی پوره کوونکی یو» دالحج دسورت په (۵ ، ۷) ایتونو

کی دبیا ژوندی کیدو ذکر دی همدارنګ د المومنون د سورت په ۱٦ ایت کی هم دامضمون بیان شویدی دالروم د سورت په ۱۹ آیت کی راغلی دی : « هغه ژوندی له مړی نه راوباسی اومړی له ژوندی نه اوځمکه پس له مرګه دهغی نه ژوندی کوی او همدارنګه تاسی به دقبرونو څخه راوویستی شی »

« په اوبو سره ځمکه دهغې دمرګ نه پس ژوندي کوي بیشکه پدې کارکې دهغوخلکو د پاره نښی دی چی عقل لری (پوهیږی)

د یس دسورت په (۳۳) آیت کی ارشاد دی « او یوه نښه دهغو خلکو دپاره مړه ځمکه ده چی موږ ژوندی وګرځوله اوموږ ،څخه غلی راوویستی بیا له هغو غلو ډوی خوری »

دحم السجده دسورت په (۳۹) ایت کی دحکیم ذات لارښوونه ده :" او له نښانو دهغه نه دادی چی ځمکه وینی وچه کلکه پراته

که په ځمکه تخم کښت کړی نه محنت پری وکړی او او به ورنکړی نو ...

ځمکه یی ژوندی کړیده ژوندی کوونکی دمړو دی خامخا چی هغه په هرڅیز باندی قادر دی » همدارنګه پدی اړوند لارښوونی په (النجم ۳ - ۵) ، (عبس ۲۲ - ۲٤) الطارق ۸ ایت)

العمران ۲۷ الرعد (٥) الحجر (۲۳) . النحل (٦٥) بنی اسرائیل (٤٩ ، ٥) طه (٥٥) یس (۷۷ - ۸۱) دالعمران دسورت په ۳۷ ایت کی ذکر شوی دی .

« ... او راوباسی ژوندی له مړی نه (لکه حیوان دنطفی) او راوباسی مړی له ژوندو ... لکه هګی) او چاله چی وغواړی بی حسابه روزی ورکوی .

طبی نوی څیړنو دا مسئله هم حل کړیده او د الله (ج) دکلام تصدیق یی په اعلانیه ډول کړیدی چی خامخا دالله (ج) وعده رښتونی ده او دذکر شوی مضمون په اړوند چی کوم ایتونه بیان شویدی په زیاترو کی حکیم ذات "دپوهولو د پاره دځمکی مثال ورکړی دی چی د باران د اوبو په وسیله ځمکه ژوندی کیږی

وشی ! نه هیڅکله نه مګر کله چی اوبه ورته ورسیږی تخم زرغونیږی نو کوم کافر په روایی چی ځمکه نده ژوندی شوی

الله (ج) د باران په وسیله دوبره ستره ځمکه ژوندی کولی شی نو وایاست چی انسان بیا ژوندی کولی نشی ؟

ددی مثال حقیقت دلته ځرګندیږی چی ځمکه هم خاوره ده او انسان هم خاوری کیږی قدوس خدای (ج) بوی خاوری ته ژوند بخښلی شی ایا بلی خاوری ته یی نشی بخښلی ؟ حال دا چی دواړه خاوری دیو جنس څخه دی نو کوم تو پیر پکی باقی پاتی کیږی لرڅه د غور مقام دی په رښتیا چی غالب خدای (ج) پدی باندی قادر دی . راځی په نورو ساینسی حقایقو باندی نظر واچوو.

دڅیړنو سره سم دانسان جسم دګن شمیر حجرو څخه جوړشویدی .

زړی حجری دلسوکلو په اوږدو کی مړی کیږی او نوی حجری پیداکیږی دا کار دننه په جسم کی سرته رسیږی ګویا هغه څوك چی سل کاله ژوندی وی نو لس واری مړ او ژوندی کیږی.

دالله (ج) دا دعوه چی موږ انسان دمرګ نه وروسته دوباره ژوندی کوو بیخی رښتونی اوبرحقه ده .

که مخالف دعقل خاوند وی باید دهمدغه یوی څیړنی په اړوند به آخرت

(۳) مخ

مسؤلیت های مربیون در قبال اولاد

پیوسته به گذشته
ترجمه :وحدتیار

مسئولیت تربیهٔ اجتماعی

مراعات حقوق دیگران

آداب نیکوکاري باوالدین : برمربیون است که به اولاد خویش آداب ذیل رابیاموزندکه درمعامله باوالدین خویش آنرامراعات نمایند.

ازوالدین خویش جلوترنروند، آنهارابه نام شان یادنکنند، قبل ازآنهادرمجلس نه نشینند، ازمصایح شان به تنگ نشوند، بطرف طعامیکه آنهانگاه مي کنند ازآن نخورند، ازآنهابلندترنه نشینند ازاوامرشان مخالفت نکنند.

تمام این آداب راخداوند درقرآن حکیم توضیح نموده است آنجاکه مي فرماید : «وقضی ربك الاتعبدواالاایاه وبالوالدین احساناً امایبلغن عندك الکبراحدهمااوکلاهما فلاتقل لهمااف ولاتنهرهماوقل لهماقولاً کریما واخفض لهما جناح الذل من الرحمة وقل رب ارحمهما کماربیاني صغیراً » (الاسراء ۲۳ و ۲٤)

وپروردگارت حکم کرده که جزاوکسي راعبادت نکنیدوبه والدین نیکي کنیداگریکي ازآنها در زندگي توبه پیري رسید یاهردوي آنها،پس براي شان بقدراف هم چیزي نگوئید، وآنهارا ازخود مرانیدوباآنهاسخن ملایم بگوئید ، بخاطررحم ومهرباني برآنهاخودرابراي شان پست کنید ودعاکنیدکه اي پروردگاربالاي آنهارحم کن طوریکه مارادرخوردي تربیه وپرورش نموده اند.

پیامبر علیه السلام هم فرمود: مابراباه من سدداليه الطرف بالغضب (مجمع الزوائد)

هرکي بانگاه غضبناك بطرف پدرش نگاه کرد اوباپدرش نیکي نکرد.

درروایت دیگراست : عن عایشة رضي الله عنهاقالت اتي رسول الله صلي الله علیه وسلم رجل ومعه شیخ فقال له یاهذا من هذا الذي معك قال ابي قال فلاتمش امامه ولاتجلس قبله و تدعه باسمه ولاتسب له (مجمع الزوائد)

حضرت عایشه رضي الله عنهما روایت مي کندکه شخصي نزدپیامبرعلیه السلام آمد وبااوپیرمردي بود پیامبر علیه السلام گفت اي کیست که باتوآمده ،گفت پدرم، پیامبر علیه السلام فرمود: پس جلوترازاومرو، قبل ازاومنشین و اورانام گرفته صدامکن وبه دیگران موقع مده که اورا دشنام دهد.

اینك چندمثال ازاخبارسلف راذکرمي کنیم که درباب معامله نیکوباوالدین این آداب رامراعات مي کردند .

– صاحب عیون الاخبارذکرمي کندکه به عمر بن زیدگفته شدپسرت باتوچطورمعامله مي کند گفت هیچگاه درشب جائي نرفته ام مگراینکه اودرجلومن میرفت ودرروز جائي نرفته ام مگراینکه اودرعقب من میرفت وبه سطحي بالانشده است که درپایین اوقرارداشته باشم .

– صاحب مجمع الزوایدنقل مي کندکه ابي غسان الضبي مي گوید روزي باپدرم بطرف ظهرحره برآمدم ، حضرت ابوهریرة رضي الله عنه باماملاقي شد، گفت:این کیست که باتومیرود، گفتم:پدرم. گفت پس ازاوجلوترنه بلکه درعقبش بروبادریك کنارش برو، هیچ کس راموقع مده که درمیان تووپدرت واقع شود وشمارااز هم جداکند ،بلندتر از او در جائي قرار مگیرواستخواني را مخورکه پدرت بطرف آن نگاه کرده باشد شایداواشتهاي خوردن آن راداشته باشد.

درعیون الاخبارآمده، مامون قصه مي کندهیچ کس رابیشتر نیکوکاربه والدین ازفضل بن یحیي ندیدم ، فضل باپدرش یحیي درمحبس بود یحیي عادت داشت که همیشه به آب گرم وضومي کرد ،دربان زندان آنهارامنع مي کردکه چوب راوارد اطاق شان کنند، فضل به مجردیکه پدرش یحیي بخواب مي رفت ازخواب برخاسته ظرفي را که در آن آب گرم مي کردند، ازآب پرمي کرد سپس چراغ رابه آن نزدیك کرده تاهنگام صبح همانطورایستاده چراغ بدستش مي بودکه آب گرم شود وپدرش به آب گرم وضوکند .

– گویندصالح عباسي باري وارد مجلس منصور شد و با اوصحبت مي کردهنگام صحبتش (ابي رحمه الله) رابه کثرت ذکرمي کرد، دربان منصوربرایش گفت نزدامیرالمومنین این جمله رابسیارتکرار مکن، صالح جواب داد، ترا ملامت نمي کنم زیرا توشیریني وحلاوت والدین رانچشیده اي. منصورتبسم کردوگفت اینست جزاي کسیکه بالاي بني هاشم تعرض کند.

– ابن حبان درصحیحش روایت مي کند که شخصي نزدابودرداآمده گفت پدرم بامن یکجازندگي مي کرد تاآنکه به من عروسي کرد، اکنون به من امرمي کند که زنم راطلاق دهم، ابودرداگفت من ترا امرنمي کنم که پدرومادرخویش رابرنجان ونه امرمي کنم که زن خویش راطلاق کن لاکن اگر مي خواهي حدیثي را برایت بیان مي کنم که ازپیامبرعلیه السلام شنیده ام : پیامبر علیه السلام مي فرماید : پدربهترین دروازه جنت است پس اگرمي خواهي این دروازه راحفاظت کن ویا ترکش کن .

درروایت ترمذي وابن ماجه آمده که شخصي نزدابودرداآمدوگفت : مادرم امرمي کندکه زنم راطلاق کنم ، ابودرداگفت ازپیامبر علیه السلام شنیدم که مي گفت والدین بهترین دروازه جنت اند پس اگرمي خواهي آنان راضایع کن یاحفاظت کن .

— وروي ابن ماجه وابن حبان في صحیحه عن ابن عمررضي الله عنهما قال کان تحتي امرأة احبهاوکان عمریکرهها فقال لي طلقهافابیت فاتي عمررسول الله صلي الله علیه وسلم فذکرذلك له ، فقال لي رسول الله صلي الله علیه وسلم طلقها .

ابن ماجه وابن حبان روایت مي کنند که ابن عمررضي الله عنهماگفت زني داشتم که آن رادوست داشتم وعمررضي الله عنه آن رابدمي دید به من گفت که اورا طلاق کن، من انکارکردم ، اونزد پیامبر علیه السلام رفته واقعه رابیان کرد، پیامبر علیه السلام به من دستورداد که زن راطلاق کن.

اجتناب ازرنجانیدن والدین : عقوق به معني نافرماني ومخالفت ازاوامر والدین وعدم اداي حقوق آنهامي باشد. پس ازعقوق اینست که پسربطرف والدین خویش به نظرقهروغضب نگاه کند یاپسرخودراباوالدین مساوي تصورکند، یااینکه غرور، پسر راوادارکه ازمعرفي شدن به اسم پدرابا وورزد .

